ISSN Online: 3006-4708
ISSN Print: 3006-4694
*SOCIAL SCIENCE REVIEW ARCHIVES*
https://policyjournalofms.com

# A Generic Analysis of the Contemporary Creation of Pashto Folkloric Genre “Angai” in District Killasaifullah

**Malala[1], Dr. Barkat Shah Kakar[2]**
[1] M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan.
[2] Associate Professor(supervisor), HOD, Department of Pashto, University of Balochistan.

**DOI: https://doi.org/10.70670/sra.v4i2.2363**

**Abstract**
The creation of Folklore has been witnessed as omnipresent in the Pashtun societies from different geographical landscapes. It is one of the most authentic sources to retrieve the cultural, social and historical facts and structures of the society. “Angai” a feminine folkloric genre has been created in the Zhob Valley, Loralai, Killa Saifullah, Sherani, Sanzavai, Ziarat and other adjacent sub-cultural zones of the Northern Balochistan. The poetry created by the average bride (girl) unfolds voices of the ordinary Pashtun girls against the patriarchal, tribal and cultural structures which reduces women agency. This research paper tends to investigate the position and condition of the creative processes behind the creation of this particular genre created and sung by the “brides” during their marriages. The carves out inferences from empirical data obtained through questionnaire and argues on how this ancient feminine folkloric genre struggles with the basic question of its existence.

**Key Words:** Pashto Folklore, Angai, Patriarchy, Cultural Processes, Modernism

## په ضلع قلعه سيف الله کي د فوکلوري صنف "انګۍ"اوس مهاله حالت : د تخليقي عمل تنقيدي جاج

**پېژنګلو:** په پښتو فوکلوري ادب کي د ښځو ونډه تر نارينه وو ذياته منل کيږي، د دې دعوې په اثبات کي موږ د ډېرو پښتنو فوکلورستانو لکه سيد خير محد عارف، سيال کاکړ، حبيب الله رفيع او ډاکټر برکت شاه کاکړ د ليکنو څخهٔ کولی شو۔ د پښتنو په هره کليواله سيمه کي عمومي او خصوصي فوکلوري صنفونه د تاريخ په اوږدو کي تخليق شوي دي، ذياتره صنفونه د نر او ښځي ګډ تخليقات دي، البته ځيني داسي صنفونه شتون لري چي يوازي و ښځو ته منسوب دي او ښځي پکي د خپل احساس، جذبې او خيال اظهار کوي، د ببلګي په توګه د ښادۍ بدلي لکه الا خوري، خورښادي او نګۍ۔ د انګيو په حکله دومره وئيل پکار دی چي دا د ږوب ،لورالائي، قلعه سيف الله، شيراني، موسا خېل، سنځاوی، ذيارت، او هرنائي تر سيمو پوري غزېدلی صنف دی کوم چي د واده په ورځ د ناوې لخوا و ګډون والو ته وړاندي کيږي۔

انګۍ ته په لورالائي او ځرمه سيمو کې چغيان، په سنځاوی، چوتېر او ذيارت کې "اووی" او د ږوب په کليوالو سيمو کې "متول" وئيل کيږي، د انګۍ موضوعات بېلابېل دي خو په بنيادي توګه دا د ښځې له خولې وتلې هغه کرږه ، آه، اسوېلي او فرياد دی چې د يو نرواکه ټولنې په ضد د احتجاج غوره سمبول دی. اروابناد ابوالخير ځلاند د انګيو پر موضوع چې کوم کتاب راغونډ کړی دی د هغۀ سرليک "انګۍ: د نيمي نړۍ فرياد"دېر پر ځای او روغ دی، ډاکټر برکت شاه کاکړ په خپله يو چاپ شوې مقاله کښې انګۍ د روايتي پښتني ټولنې د نرواکه نظام په ضد د ځلمی انجونو يا ناويانو فصيح و بليغ احتجاجي ږغ بللی دی (Kakar, 2008, 4).

په خاص ډول د ښځينه ادب هغه صنف دی چې خاص کر په ودونو کې د بېلتون، فراق، احتجاج او جذباتي کيفيت سره اړه لري. ناوې او د هغې همزولې خوندکياني (ملګرې) د وادۀ په موقع په ګډه دغه شعري صنف "انګۍ" په غم اندوزه ډول په وزم وائي،په دې وزم کې د ژړا او اسوېلېو اثر غالب وي، او دې ته موږ په اسانو ټکو کې د يوې پښتنې ناوې نوحه وئيلی شو چې هغه پکښې د خپل تېر ژوند کړاوونه ، د مور يا پلار مرګ، د خپلوانو بېلتون، د دې سره د کورنۍ ښه يا بد چلن، انعکاس پکښې شوی دی.

دغۀ فوکلوري صنف له نن څخه نيمه صدۍ پخوا د دې سيمو په ګوټ ګوټ کې تخليق کيدۀ، هري ناوې به ځپله شاعرې په ځله کوله او انګۍ به يې جوړولې، خو د نوي ذماني د ټيکنالوژۍ، رسمي تعليم، رسنيو او ښاري ژوند ژواک تر اثر لاندې د فوکلور ذياتره صنفونه او په خصوصي توګه دغۀ صنف ورو ورو تر هغو کليوال سيمو پورې محدود شو کوم چې له دې اثراتو خوندي پاتې دي.

په دې تحقيقي مقاله کې دا هڅه شوې ده چې د نوي تهذيبي ،تعليمي، او ښاري ژوند په دې اند و روند کې پر انګيو څه ډول اغېزه شوې ده، د دې لپاره د کلاسيف الله د انجونو په يوۀ سکول کې د "انګيو د تخليقي عمل تنقيدي جائزه" تر عنوان لاندې د ۴۰ زده کونکيو او ۱۲ ښځينه ښوونکو څخه پوښتنې شوې دي، په دې سروې کې تقريباً څلوېښتو (۴۰) لوستونکو انجونو او دولسو (۱۲) استادانو برخه واخيسته. د ګډونوالو عمرونه له پنځلسو (۱۵) کلونو څخه تر دېرش (۳۰) کلونو پورې وو، دغه انجونې د شپږم،اووم،اتم،نهم او لسم کلاسونو لوستونکې وې، چې له امله يې د مختلف نسلونو او تجربو لرونکو ښځينوو نظرونه پکې شامل شول.

په دې لړ کې يوه سوالنامه جوړۀ شوې ده او د سوالنامې له لارې په ليکلي بڼه ځوابونه ثبت شوي دي.

په دې مقاله کې به موږ د اولسي ادب د تخليقي عمل څېړنه کوو او دا به ګورو چې هغه کوم کلتوري، ټولنيز، معاشي، تعليمي او زوقي عوامل دي چې و دغه تخليق ته توان ورکوي يا يې د دې تخليقي عمل لاره نيولې ده.

اولسي ادب او انګۍ

اولسي يا فولکلوري ادب د اولسونو د اجتماعي تخليق نخښه ده، اولسونه د خپل زوق او جمالياتي ادراک پر بنياد د دې ادب فني ، فکري، او تکنيکي جوړښتونه ټاکي، او بيا د اظهار دغه پېرائې د

یوې ژبې په اولسونو او کلتوري حوضو کې خپرې شي او عام خلک يې په تخليق کې هم ونډه اچوي او د خپل زوق او جمال د احساس لپاره يې کاروي

د فوکلور اصطلاح دپخوانی انګرېزي ژبې له دوو کليمو— Folk او Lore څخه جوړه شوې ده. د لغت سره سم Folk د خلګو، عوامو او د یوې ټولنې د عامو غړو معنا لري، او Lore د پوهې، روايت، دود او هغو معلوماتو دپاره کارېږي چې له پخوا د خلګو په منځ کې د تجربې او عادت په شکل پاته وي(Encyclopaedia Britannica, n.d.) .ځکه خو فولکلور په لغت کې د "د خلګو پوهه" يا "د خلګو د رواياتو مجموعه" معنا ورکوي،يعني هغه مواد چې د یوې معاشرې د عامو وګړو له ژوند،تجربو او دودونو څخه سرچينه اخلي او له نسل در نسل په شفاهي يا عملي توګه انتقالېږي.

دغه اصطلاح په ۱۸۴۶م کال کې د انګرېز ليکوال او محقق وليم ټامز لخوا رامنځته شوه. هغه د "The Athenaeum" په نوم مجله کې د يو تحرير په ترڅ کې دا نوی نوم وړاندې کړ،چې د هغو کلتوري موادو دپاره يو واحد علمي اصطلاح رامنځته شي چې تر هغه وخت پورې د " popular antiquities" او نورو متفرق نومونو لاندې يادېدل. د ټامز د تجويز وروسته دا اصطلاح ژر د څېړونکو په ميان کې عامه شوه او وروسته د علومو په يوه ځانګړې اصطلاح بدله شوه چې هدف يې د خلګو د دودونو، رواياتو، مراسمو او شفاهي کلتور علمي مطالعه ده.په دې اړه احمدشاه زغم په خپل کتاب "فولکلور او فولکلوري ادبيات" کې ليکي:

> "فوکلور يا فولکلور انګرېزي کلمه ده. اصلاً په انګرېزي متن کې د لومړي ځل لپاره تامس (Thoms) په ۱۸۴۶ کال داګست مياشت په خپل يو مضمون چې (Ambroise Merton) په مستعار نامه استعمال کړه، هلته يې د فوکلور (Folklor) اصطلاح وکاروله. يعنې دا چې (ل) په عاريتي ډول د نورو اولسونو او خلکو (افغانانو) له خوا ورسره يو شوی دی،اصل يې فولکلور (Folklore) دی، څرنګه چې د فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره د يوه انګريز له خوا په انګريزي متن کې استعمال شوی ده،نو له همدې امله،فولکلور انګريزي کلمه ګڼله کېږي،د فولکلور (Folklore) لغت له دو وتو کونو څخه جوړشوی دی(فولک) او (لور)" (زغم،۲۰۱۵،مخ۱۵)

د پښتو بل نامتو محقق داؤد وفا په خپل کتاب"د فولکلور پېژندنې لاربښود" کې په دې حواله داسې نظر ورکوي:

”د فوکلور د کلیمې په باب ځینې وايي،چې دا یوه انګلیسي کلیمه ده،ځینې وايي،فوکلوز یوه یوناني کلیمه ده،ځینې یې بیا فرانسوي بولي،په فرانسوي،یوناني او انګلیسي ژبو کې دا کلیمه په همدغه اوسني جوړښت ویل کیږي،خو څرنګه چې د دغه ژبو ځینې لغتونه په یوناني او ځینې یې د هغې ژبې د مور لاتیني یورې اړه لري،فکر کیږي،چې دا کلیمه به اصلا لاتیني کلیمه وي او د نورو ژوندنیو اصطلاحاتو په څېر دغو ژبو ته راننوتي،ځینې اوسنی انګلیسي ژبي،د foklore پر ځای یوازې د fok توری کاروي،نو داښې چې په نورو ژبو کې باید دا ټکی لومړی د فوک په بڼه وکتل شي،د ”لور“ لاحقه وروستی جوړښت دی“ (وفا،۲۰۱۳مخ،۲)

فولکلور د انسان د معاشرتي ژوند هغه برخه ده چې د خلګو د اجتماعي فکر او اجتماعي تجربو څخه راټوکیږي. دا اصطلاح د هغو رواجاتو، روایاتو، دودونو او نورو غیرمادي عناصرو دپاره کارول کیږي چې د یوې ټولنې خلک یې نسل درنسل انتقالوي.د فولکلور تشریح هغه مهال بشپړیږي چې دا مواد د یوې ټولنې د عمومي ژوند د یوې منظمي برخي په توګه وڅېړل شي او د کلتور د فهم دپاره د یو علمي چوکاټ حیثیت پیدا کړي.

فولکلور په اصل کې د تحریر پر ځای په شفاهي شکل ژوند کوي.د خلګو په محفلونو، مراسمو او د کلتوري مناسبت په جریان کې انتقالیږي. د دې شفاهي انتقال خاصیت د دې سبب کیږي چې فولکلور د وخت په تېرېدو سره بدلېدونکی،خو بیا هم د خپلې سیمې د کلتوري هویت نه بېلېدونکی عنصر پاته شي.دا خاصیت د فولکلور یوه مهمه علمي ځانګړتیا بلل کیږي، ځکه چې د ټولنې د فکري تحول، سیاسي حالاتو او اقتصادي حالاتو اغېز پکې څرګند وي.

د فولکلور یو تعریف داسې هم شوی دی چې دا د انساني ژوند او د خلګو د اجتماعي تجربو یوه مجموعه ده. په فولکلوري موادو کې د ژبې ځانګړې بڼې، په ورځنی ژوند پورې تړلې محاورې، دودونه،د موسمونو پورې تړلې کیسې، کورني مراسم او ډېر نور غیر تحریري عناصر شامل دي. دا ټول هغه مواد دي چې د یوې ټولنې د هویت د دوام دپاره خاص رول لري.

فولکلور د یوې ټولنې د تاریخي او معاشرتي خدوخال د پوهېدو دپاره ارزښتناکه منبع ده. ځکه خو محقیقن فولکلوري مواد د یوې سیمې د روان حالت او اقتصادي شرایطو په تحلیل کې کاروي. د فولکلور د مطالعې یوه مهمه برخه دا ده چې دا مواد د کومو شرایطو په نتیجه کې منځ ته راغلي دي او د خلګو په اجتماعي ژوند کې کوم عملي ضرورت پوره کوي. د دې له مخې فولکلور یواځې تفریحي یا هنري فعالیت نهٔ دی، بلکې د معاشرې د اجتماعي نظم او فرهنګي ثبات یو عمومي شکل دی.

د فولکلور د تشریح په برخه کي یو مهم ټکی د موادو شکل او صورت دی. فولکلور د مادي او غیرمادي دواړو عناصر څخه جوړېږي. په مادي عناصرو کي د کلیوالي ژوند وسایل، جامې، ګاڼه، د کور د جوړښت طرز، د کلتوري مراسمو وسایل، او نور داسي شیان شامل دي چي مادي بڼه ولري. غیرمادي عناصر هغه دي چي د ژبې، عمل، عقیدې او دود له لارې څرګندېږي، لکه متلونه، کیسې، سندرې، د ودونو رسمونه، د مرګ او ژوند مراسم، او نور. یوه څېړنه هغه مهال بشپړېږي چي دواړه اړخونه په متوازن ډول تحلیل شي.

د نامتو فولکلوریسټ داور خان داؤد په وینا چي فولکلور یو پراخ مضمون دی چي بېلابېل اړخونه لري، دهٔ په خپل کتاب "خوشحال او فولکلور" کي د موضوع او معنا له مخي د فولکلور درې غټ او مشهور قسمونه ښودلي دي.

١- مادي(NON VERBAL) یا غېر لفظي فولکلور لکه وسله کالي، پټري، جامه، پېزار، سیکي (COINS)، کتبې او نور چي د دهات، کاڼي، اوسپني، پیتلو، تانبې، خاوري، کېږې یا لرګي نه جوړ کړے شوي وي، د مادي فولکلور تعلق د یو اولس ثقافت سره دے، دې ته علم الانسان (SOCIAL ANTHROPOLOGY)هم وائي.

٢- نیم مادي (SEMI VERBAL)فولکلور یا نیم لفظي لکه توهمات، دود دستور، نجوم، فال، رمل، جفر، خوب، جادو، مافوق الفطرت مخلوق، لوبې، ګډا، موسیقي، نقش ونګار، ټوني،ټوټکي او نور،د دې تعلق د یو قوم تهذیب سره دے.

٣- غېرمادي (VERBAL)معنوي یا لفظي فولکلور لکه قیصې، رومانونه، داستانونه، افساني، سندرې، متل، اړ،محاورې او نور، د دې تعلق شفاهي، زباني یا غېر تحریري ادب سره دی"

(داؤد،داور خان،٢٠٠٦،مخ،٣٨)

فولکلور د معاشرې د غړو تر منځ د اړیکو د پیاوړتیا یوه وسیله هم ده. کله چي خلک په یو اجتماعي دود او روایت اتفاق ولري نو دا کلتوري حافظه د هغو د معاشرتي نزدیکت یوه مهمه سرچینه جوړېږي. همداراز د فولکلور په مرسته د خلګو د فکر هغه برخي څرګندېږي چي په رسمي تاریخ کي نهٔ راځي، مثلاً د ښځو رول، د ماشومانو تجربې د کلیوال ژوند د ستونځو بیان او داسي نور.

د فولکلور عملي اهمیت هم له پامه نهٔ شي غورځېدلای. د فولکلور له لارې د یوې سیمې د کلتوري تاریخ د مطالعه کولو ترڅنګ، ادبي تحقیقات،د ژبې څېړني د هنر تاریخ او معاشرې د تحویل د تحلیل دپاره هم مهمه منبع برابروي. څېړونکي په فولکلوري موادو کي د هغو ژبو بدلون نخښي لټوي چي د سیمې د ژبې د بدلون تاریخ تشریح کوي. د دې تر څنګ فولکلور د کلتور د پېژندلو

دپاره هم مهمه وسيله ده ځکه ډېر فولکلوري عناصر د سيمو تر منځ د تګ راتګ په نتيجه کي جوړ شوي وي.

فولکلور د يوې ټولني د اجتماعي فکر،اجتماعي تجربو او اجتماعي ارزښتونو انعکاس دی. د دې اهميت يواځي په تاريخي يا ادبي مطالعه پورې محدود نهٔ دی، بلکې د انسان د معاشرتي خدوخال د پوهېدو دپاره هم يو بنيادي علمي ساحه ده. څېړونکي هر هغه وخت چي د يوې ټولني د کلتور، ژبي او اجتماعي تجربو په اړه علمي تحليل کوي نو د فولکلور مواد يې د اصلي اسنادو حيثيت لري.د فولکلور د اهميت او ارزښت په حواله کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي په خپل کتاب"فولکلور پېژندنه" کښې داسي ليکي:

"په داسي حال کي چې تاريخ او ټولنپوهنه د يوه ملت يا ټولني د موجوديت او حرکت يوازي بهرنی او قشسری بڼه راښيي فولکلور زموږ د هغو له روح او باطني نړۍ سره اشنا کوي او د خلکو مفکورې ذوقونه جذبات ذهنيت او احساساتو ښېلګه ايزه څرګندونه او د عوامو د ژوند داستان دی،له همدې امله د خلکو د معنوي فرهنګ د پېژندني دپاره له فولکلور څخه د يوې مهمې وثيقې او منبع په توګه کار اخيستل کيدای شي، کلتوري بشرپېژندنه، ژبپوهنه، ټولنپوهنه ادبيات پېژندنه د تمدن تاريخ او اقتصاد پوهنه د خپلو څېړنو دپاره د فولکلوري پانګې څخه استفاده کوي، فولکلوري څېړنو د نورو ټولنيزو پوهنو دپاره د علمي تحقيقاتو ور پرانيستلی دی، د هغو لرغونو پېښو د توضيح دپاره چې د ليک له ايجاد نه مخکي واقع شوی دی،د فولکلوري موادو تحليل کليدي اهميت لري" (روهي،۱۳۶۵،مخ۲۴)

فوکلور يواځي د اولس د زوق، ښکلائيز قدرونو او ټولنيز ژوند هينداره نه وي، بلکه دا د اولسونو د تاريخ، لرغوني کلتور، تهذيب او اساطيرو يو بشپړه شفاهي پانګه وي، ډاکټر برکت شاه کاکړ په خپله يوه مقاله کي داسي ليکي:

The folklore of almost all human societies embraces the diverse glimpses of the everyday life of the human society. As traditional societies operate on the oral principals and hence an oral tradition prevails all around, therefore the folklore can be instrumental to retrieve the cultural and social histories of people and communities (Kakar, 2022,3)

ژباړه: د ټولو انساني ټولنو اولسي ادب د عام ورځني ژوند هر اړخ په خپل لمن کي رانغاړي، چونکه روايتي ټولني پر شفاهي روايت تکيه کوي، او شفاهي روايت په ټولنه کي خور وور  وي نو ځکه دا په ټولنه کي هر ځای پاشلی وي او موږ  د ټولني او اولسونو د تېر وخت کلتوري او ټولنيز تاريخ  په ښه توګه له فوکلور څخه رغولی شو.
د انګېو د تخليقي عمل اوسنی حالت: عمومي څېړنه

د مقالې په دې برخه کي موږ د هغه معلوماتو تحليل کوو کوم چي  په اوسنيو وختونو کي د انګېو د تخليق حالت او کيفيت څرګندوي، لکه څنګه چي لوړ ؤ وئيل شو چي د معياري تحقيق د يوه پوښتنليک (سوالنامې) په مرسته معلومات راغونډ شوي دي، دلته به يې پېژنه وکړو.

په سوال نامه کي له ګډونوالو څخه د نوم، عمر او تعليم په اړه ابتدائي معلومات واخيستل شول، او ورپسې  پوښتنه وشوه چي آيا د دوي په کور کي پښتو ليکلی ادب موجود دی او که نه، همدارنګه دا هم ورڅخه وپوښتل شول چي آيا هغوي پښتو ويلی او ليکلی شي او که نه، او د دې تر څنګ دا معلومه کړل شوه چي د دوي په کورونو کي د وادهٔ په موقع انجوني بدلي وايي او که نه.په سوال نامه کي دا پوښتنه هم شامله وه چي زياتره بدلي چي ښځي په اختر،وادهٔ يا بله موقعه وائي کومي بدلي دي، لکه کاکړی غاړي،د اتڼ نارې او الله موري او نور،له ګډونوالو څخه دا هم وپوښتل شول چي آيا بدلي يې زده دي او که نه، او کله چي هغوی کاکړی غاړي، انګی يا د اتڼ نارې وايي نو څهٔ ډول احساس کوي، لکه د فخر احساس، د شرم احساس، او که هېڅ نهٔ. په سوال نامه کي د انګی په اړه ځانګړې پوښتني هم شاملي وې، لکه آيا هغوی انګی پېژني او که نهٔ، او آيا انګی يې زده دي او که نه  ،له ګډونوالو څخه دا پوښتنه هم وشوه چي د دوي په خيال تعليم يافته انجوني په خپل وادهٔ کي انګی وايي او که نه، او همدارنګه دا هم ترې وپوښتل شول چي آيا کليوالي انجوني په خپل وادهٔ کي انګی وايي او که نه. د سوال نامې په وروستۍ برخه کي دا پوښتنه هم  شامله وه چي کله چي هغوی انګی وايي نو خلګ د دوي په اړه څهٔ نظر لري، لکه دا چي انګی انګی د پخوانيو او ناخونده خلګو تخليق دی، انګی ناروا دي، يا خلګ وربانديي خاندي يا د لرغونتوب په وجه يې ستائي.
دسروې له نتيجو څخه دا څرګنده شوه چي د پښتو فولکلوري ادب سره د خلګو دلچسپي اوس هم تر يو حده  پوري موجوده ده،د لومړيو دوو سوالونو چي" آيا د دوي په کور کي پښتو ليکلی ادب موجود دی او که نه"  په جواب کي اتيا فيصده (۸۰٪) ګډونوالو مثبت ځوابونه ورکړل، چي د پښتو ليکلي او شفاهي ادب سره د اشنايي ښه بېلګه يې ګڼلی شو، د دريم سوال په جواب کي چي "آيا دوي پښتو ويلی او ليکلی شي او که نه"پنځوس فيصده ګډونوالو وويل چي هغه پښتو ليکلی شي، چي  دا هم د ښځو له خپلي ژبې سره د ميني  يو ثبوت ګڼل کېدای شي.
د څلورم سوال په جواب کي چي"د وادهٔ په موقع انجوني بدلي وايي او که نه" په جواب کي زياترو ګډونوالو دا خبره ومنله چي انجوني په خپله په ودونو کي بدلي وايي،دلته دا څرګندوي چي د ښځينه فولکلوري ادب روايت يواځي نقل شوی نهٔ دی، بلکي ښځي پکي خپل تخليقي کردار هم وخت په وخت ادا کوي،په پنځم سوال کي"چي دوي کاکړی غاړي، انګی او د اتڼ نارې وايي او کنه؟"په جواب کي ګډونوالو د کاکړی غاړو ،انګېو او الله موري نومونه ياد کړل، او دا يې ومنل چي دغه اصنافو سره بلدتيا لري،دا هم د ښځينه شفاهي ادب د تنوع او پراخوالی په ګوته کوي.
د شپږم سوال چي" آيا بدلي يې زده دي او که نه" د جواب  سره سم پنځوس فيصده ګډونوالو وويل چي بدلي يې زده دي، اکثره يې وائي، خو د کلي يا محلې خلګ وائي چي د  باسيواده انجونو سره دا نه ښائي
د اووم سوال په جواب کي چي" دوي انګی وائي نوڅهٔ ډول احساس کوي، لکه د فخر احساس، د شرم احساس، او که هېڅ نهٔ" اتيا فيصده انجونو وويل چي د دې اولسي ادب سره فخر محسوسوي، په داسي

حال کي چي لس فیصده انجونو د شرم احساس څرګند کړ، دغه اختلاف د عصري ماحول او روایتي کلتور ترمنځ د ذهني ټکر په ګوته کوي،د اتم سوال په جواب کي سل فیصده ګډونوالو د انګۍ موجودګي او اهمیت تسلیم کړ، چي دا د دې صنف د کلتوري مقام یو څرګند ثبوت دی.
د نهم سوال چي" آیا دوی انګۍ پېژني او که نه، او آیا انګۍ ورته زده دي او که څنګه" د جواب سره سم پنځوس فیصده ګډونوالو وویل چي انګۍ یې زده دي. دا نتیجه دا په ګوته کوي چي که څه هم دا روایت تر اوسه ژوندی دی، خو د پخوا په نسبت یې د یاد ساتلو او ویلو کچه راکمه شوې ده،د لسم سوال په جواب کي چي "تعلیم یافته انجوني په خپل واده کي انګۍ وایي او که نه" ګډونوالو وویل چي تعلیم یافته انجوني خپله خوښه لري، که چیري هغوی انګۍ وائي نو ښه ګڼل کیږي، او که چیري هغه د انګیو ویلو څخه ډډه کوي نو څوک یې مجبوره وي نه. دا نکته ډېره مهمه ده ځکه چي یو وخت په دې کلتوري ساحه کي د هري پېغلي یا ناوې لپاره په خُل واده کي انګۍ وئیل لازمي ؤ، که یو چا انګۍ نه شوې وئیلی نو دا به پېغور ګڼل کېده، ځکه خو دا متل موجود دی چي "که بیا ودېدم انګۍ به ښه زده کړم".
د یولسم سوال په جواب کي "ایا په انګیو کي کوم بدلون رامنځ ته شوی دی کنه" د کلیوالو انجونو په اړه شلوېښت فیصده مثبت ځوابونه ورکړل شول، چي دا په ګوته کوي چي په کلیوالو سیمو کي هم د انګۍ روایت د بدلون له مرحلي څخه تېرېږي،اوس انجوني د نورو انګۍ وائي او خپلي کمي جوړوي، البته د دې تحقیق په نتیجه کي چي کومي انګۍ راټولي شوي دي هغه په هره حواله نوي او د باسیواده انجونو تخلیقات دي.

د دولسم سوال په جواب کي چي" کله چي دوی انګۍ وایي نو خلک د دوي په اړه څه نظر لري، لکه دا چي انګۍ د پخوانیو او ناخونده خلګو تخلیق دی،انګۍ ناروا دي یا خلک ورباندي خاندي" شپېته في صده ګډونوالو و ویل چي ښاري خلک ورباندي خاندي، او دغه تخلیقات د پخوانیو وختونو دود بولي، له دي څخه موږ د ښاري ژوند او نوي تعلیم اثرات معلومولی شو چي د لرغوني کلتور و تخلیقي عمل ته وده نه ورکوي، او نه خپل داسي کلتور تخلیقلوی شي چي پکښي دي خلک تخلیقي اظهار وکړي.

## د باسیواده ناویانو انګۍ

په دې سروې کي چي کومي نوي انګۍ په ګوته شوې هغه د بېلګي په توګه دلته وړاندي کیږي:

د سپیني خوني تر مخ ډیوه
دا د سهار جمه سي کېده
مکی رارغ کئ،سي پورته سه
دادا ناجوړه ده،نهٔ ده ښه
زهٔ سي راووتم په سیاوه
دادا بې هوښه وه،کپیده
ما ول ډاکتر له بې وړو لالا
تر اسپتاله ورسېده

ډاکټر ور رالی ویې کته

ول هو پلانیه! کوټي لې وړه

وماته ایسي د زړۀ دوره

په ایمبولینس کي زۀ ورسره

دا ارمانجنه سي ګاېده

ول اوړ کهول مه پاته تر شا

کشنی پلانک مه کۀ در ایله

بل نازېدلګي ډېره شفا

ول زویه خدای د وکه پرده

تۀ به په زوند سي په اور پخه

دا تر یاسین مه لیا ویسته

بل په اوبو مه که لیا اوبه

بیا عزرایله ودرېده

له ما سي یووړه د مور سایه

(له بي بي کوټري سره مرکه،کلاسیف الله،۳۰-۱۲-۲۰۲۵)

په لوړه انګۍ کي موړ د ناوې د انا (نیا) د مرګ منظر وینو، په دې کي موړ ته د هسپتال، ایمبولنس، ډاکټر، د زړۀ دوره،بې هوښه کیدل، او داسي نور ټکي دي چي په اوسني معروض کي یې باسواده انجونه کاروي، په پاسه انګۍ کي موړ احساسولی شو چي دا د یو داسي ناوې انګۍ دي چي سیواد لري۔

هم

په دې لاندي انګیو کي یوه ناوې د خپلي مور د مرګ کیسه ښومره په خوند او سوز سره کوي،دغه لاندي انګۍ مي د کلاسیف الله له یوې زنانه ښخه ریکارډ کړې ده،چي د تر وادۀ ښۀ وخت مخکي یې مور په حق رسېدلي وه،لکه چي وائي:

د سپیني خوني تر مخ نلونه
و ترلو پرې مه د زړۀ رګونه
زما څنګه ناز ؤ،څنګه لاډونه
تر نیمي شپې مه ول مجلسونه
تر سرې غرمې مه کول خوبونه
نۀ مه لیدلي ول لوی دا لوی غمونه
دا هر رنګه مه ول فېشنونه
نن له ما هیر دي خپل کتابونه
نه مه په یاد دي خپل قلمونه
زما پر وږو سول د غم بارونه
په زوند مه خاوري سول آرمانونه
ماته راپاته سوې کشنۍ انجونه
بل مه دی خوار سول دا سپرکي ورونه
زما په کلومو کي بل سي اورونه
تر خولې مه وځي دا تور دودونه
هو مورکۍ! ځای د سه،دا جنتونه
غم د تېرۀ دی،لکه مېخونه
زما به سوري کي د صورت هډونه

په دې پاسه انګۍ کي مور وینو چي د یوې انجلۍ مور مري او و هغې ته کشر ورور او خور پاتیږي، د دې سره د هغې پر زړۀ د خپل نابشپړه تعلیم (زده کړو) خیال ډېر زورونکی دی، په دې انګۍ کي هم مور قافیې ته ځیر شو نو قلمونه،خوبونه، فیشنونونه، کتابونه، لاډونه، مجلسونه، ارمانونه داسي ټکي دي چي په لرغونو انګیو کي یې مور ته بېلګي په لاس نه راځي، او په دې انګۍ کي چي کومه علمیه یا ټرېجیډي ده هغۀ د

ارمانونو د وژل کېدو ده، لکه په قافیو کي که موږ وګورو نو هډونه،مېخونه، غمونه، دودونه، اورونه، او رګونه د هغه علمیي او غمیزي ښکاره اظهاري علامتونه دي، له دې څخه دا اندازه لګول اسانه دی چي په اوسني وخت کي هم د انګیو د تخلیق عمل روان دی.

هم دغه ډول لاندي یو څو انګی سیاسي رنګ لري، دا انګی په کلاسیف‌الله کي د یو سیاسي شخصیت په مړینه ویل شوي ده. دا شخص ارمان لوڼی دی، چي په ډېر ظلم او جبر سره شهید کړل شو، د ارمان لوڼي د شهادت په غبرګون کي د پښتنو انجونو خوا په بېلابېلو طبقو کي ګڼي انګی ویل شوي دي، چې دا خپله د هغه د سیاسي، معاشرتي او انساني اهمیت ښکاره کوي،دلته وړاندي کېدونکي انګی ما د کلاسیف‌الله له یوې ښځینه څخه ریکارډ کړې ده، په دغو انګیو کي د اروابښاد شهید ارمان لوڼي د مرګ خاطرې، د هغه د قربانۍ درد او د ټولني پر شعور د هغه د شهادت اثر په واضحه ډول بیان شوی دی، دا انګی یوازې یو د شخصي غم اظهار نهٔ دی، بلکې د یو اجتماعي او سیاسي سانحې اولسي تاریخي ثبت هم ګڼل کېدای شي، لکه څنګه چي په لاندي انګیو کي ویل کېږي:

دا د هدیرې پر لمن روپۍ
دا سپین ارمان سي له دنیا تلۍ
مرګه! تا څنګه خوندي کاوۍ
هوس یې اوس د وطن کاوۍ
دلته ولیاړي د کار ګاډۍ
دفتر یې ډک له کاغذان دی
ناوګي مائینه یې وهي بوغۍ

او دا لاندي انګی هم په دې حواله ویل شوي ده:لکه چي وائي:

دا د هدیرې پر لمن غمي
د الله جار سم تر باچائي

مرګ مه قبول دی،خود به راځي
د ارمان مرګ دی،په تبائي
نیاوګي مائینه يې بوغۍ وهي
سرکي بچي يې اور لګوي

دا د هديرې پر لمن ډيوه
ګلالۍ زاړه لړ کي سوکه
زړا د ځنګه ډېره تېره
دغه اسانه ويرانه ده
الله د وکه لويه پرده
لمن د لاندي نر نوکان سه
هغه هم ورځ وه،سي تره سوه
د سپين روانه سوه،جنازه
مځکه سوه،ګرده توره تیاره
دا پلانۍ خواره راپاته سوه
زړۀ مه په سوزي هر ګنټه
له لويه تخته راولوېده
الله د وکه لويه پرده
پلانکۍ هم ډېره کوشنوټکي ده
د دې پر صورت د لالا لمبه
خوندو بې هوشه دا شپه تره که
پلانکۍ هم ډېره وه،ګنده
يوار له موره سه،راپاته سوه
(ګل ببو سره مرکه،کلاسيف الله،۲۹-۱۰-۲۰۲۵)

په دې لاندي انګې کې هم د يوې يتيمي انجلۍ د ژړا او دردناکه فرياد انعکاس ليدل کېږي، دا انګې د بېموره لوڼو د هغه نفسياتي او جذباتي حالت ترجماني کوي، چې کله د مور له فراق وروسته د مور قبر ته ولاړې وي. د مور نېشتوالی د دوی دپاره يوازې يو جسمي جدايي نۀ ده، بلکې يو روحي خلا، يو جذباتي تشوالی او د ژوند د سيوري له منځه تلل دي،په دې حالت کي انجلۍ خپل ټول غم، ارمانونه او نيمګړې مينه د مور پر قبر تويوي او اوښکې يې په تپور کي ګډېږي،دا اوښکې د مجبورۍ، يتيمۍ او بېوسۍ علامت ګرځي،لکه چي دا هره اوښکه د مور سره يو ناتمامه مکالمه ده

پايله:

د دې سروې له مجموعي تجزيې څخه دا نتيجه اخيستل کېدای شي چي انګۍ د قلعه سيف الله په کليوالو او ښاروالو سيمو کي اوس هم د پښتني ناوې د جذباتي او کلتوري اظهار يوه مهمه وسيله ده،که څۀ هم عصري تعليم، ښاري ژوند او ميډيا پر دې صنف زښت ډېر اثرات اچولي دي، د انګيو تخليق چي پخوا پر هره ناوې يو پور ګڼل کېدی او هغه به په و دې ته اړ کېده چي خپلي انګۍ جوړې کړي، خو اوس دا د ناويانو سره يو اختياري مسئله پاته شوې ده، که يې څوک جوړوي نو ښه ګڼل کېږي او که يې نه جوړوي نو عېب نه دی. د دې تحقيق په ترڅ کي چي د کومو ښځو سره مرکې وشوې هغه دا ثابتوي چي انګۍ وئيل اوس هم يو ټولنيز ارزښت لري، ځکه اوس هم دا د قلعه سيف الله د پښتني کلتور يوه زبردسته او فعاله تخليقي پانګه ده. دا سروې دا حقيقت هم روښانه کوي چي د انګۍ د بقا او ترويج دپاره علمي، ادبي او کلتوري هڅو ته اړتيا شته،چي دا اولسي سرمايه راتلونکو نسلونو ته خوندي پاته شي.

د باسيوادو انجونو انګۍ هم دا خبره سپينوي چي انګۍ اوس هم تخليقيږي، او د اوسني وخت په انګيو کي د غميزي نوعيت د پخوانيو انګيو څخه بېل دی. د باسيواده ناويانو په انګيو کي د کورني جبر، يا د نر واکۍ د نظام په ضد احتجاج کم ښکاري، يوه وجه يې هم دا کيدلی شي چي ښائي دلته د نرواکۍ پېرۍ کمزورۍ شوې دی، د باسيواده انجونو په کورنيو کي هغه ډول دودونه کم دي کوم چي د کم عُمر واده ته جواز ورکوي، يا د انجلۍ تر عُمر ذيات يا کم سړي سره د واده پريکړه کوي، او په هم دې انګيو کي موږ ته سرۍ ، مخۍ يا بدل واده هم په نظر نه واځي، لويه غميزه البته بيا هم دا ده چي د نوي وخت د ناوې غميزه د کتابونو، قلمونو، او فيشنونو آزادي له لاسه ورکول د اوسني وخت د ښاري او باسيواده ناويانو لويه ستونزه ده چي هغوی په انګيو کي څرګنده کړې ده.

# References:


Encyclopedia Britannica. (n.d.). *Folklore*. In *Encyclopedia Britannica*. Retrieved June 14, 2026, from https://www.britannica.com/topic/folklore-academic-discipline

Kakar, B. S., Kakar, A. S., & Samiullah, S. (2022). The Reflection of the Spiritual Tradition in Pashtu Folklore: A study of Poetic Genre "Kakarai Ghardi. *Al Khadim Research Journal of Islamic Culture and Civilization*, *3*(1), 1-10.

Kakar, B.S. (2009). The Feminist Folkloric Genre "Angai" a Metaphor of Resistance and Eloquence of the Traditional Pashtun Women. Balochistan Review,Vol XX & XXI

زغم،احمد شاه(۲۰۱۵) فولکلور او فولکلوري ادبيات، ملي تحريک، افغانستان

وفا،محمدداؤد(۲۰۱۳)د فوکلور پېژندنې لارښود،ختيځ اکاډمي،ننګرهار

داؤد،داور خان(۲۰۰۶)خوشحال او فولکلور،پښتو اکېډيمي پېښور